# غزل

دنیا دار که مستغنی په سیم و زر دي

هنرمند وسره گنج دخپل هنر دي

بیهوده به زور ور وځان ته وایی

د دنیا سړی که هر څو زور آور دي

جودانی قدر یو لعل پکښی پیداشی

نورجهان واړه دتو روکانو غر دي

که دعمر و رفتن ته ځوک نظر کا

دابه وایی چې آفتاب دمازدیگر دي

تعجب زما د ډیرو اښکومه کړه

ماموندلی په دابحر کښی گوهر دي

دریا خرقه یې خدای مکړه په غاړه

«رحمان» کوز پټکی ترلی قلندر دي

www.libtool.com.cn

# بخیل او فقیر

یوه فقیر له یوبخیل بـــڼدای څخه څه وغوښتل، ورته ویې ویل: یوڅه را کړه!

بخیل ورته وویل: که تا زمایوه خبره ومنـــې نوبیا چې هرڅه ته غواړې، زه به یې درکړم...

www.libtool.com.cn

فقیر وویل: پر سترګو، منم یې، کومه خبره ده؟

بخیل: خبره داده چې هیڅکله له ما څخه څـــه مـه غواړه!!

# رباعی

پاکه ربه ماته وکړی هـــــدایت

دسرور کائنات په برکت

له دروغونه مې ژبه په امان کړی

داصدیق د صداقت په برکت

مشکلات د دې جهان په ما آسان کړی

دعثمان دشهادت په برکت

عاجزان زمادلاسه آزار نکړی

دعمر دعدالت په برکت

داکسی ما اچوی خوی دبخیلانو

دعلی دسخاوت په برکت

www.libtool.com.cn

# ضميرونه

ضمير هغه کلمه ده چې دنوم په ځای دتکرار دلری کولو لپاره راځی.

ضميرونه په پښتو کې په څو ډوله دي چه مشهور قسمونه يې دادي:

www.libtool.com.cn

شخصی ضميرونه، اشاری ضميرونه، استفهامی ضميرونه، مبهم ضميرونه، ربطی ضميرونه.

شخصی ضميرونه: هغه دی چې پريومعين شخص يعنی په متکلم، مخاطب اوغايب باندی دلالت کوی.

شخصی ضميرونه داستعمال مخه په پيوست (متصل اونا پيوست (منفصل) باندی ويشل کيږی.

الف- متصل ضميرونه: هغه دی چی يوازی نه راځی اوتل دفعل سره پيوست استعماليږی. متصل ضميرونه دادی:

م- دمفرد د متکلم لپاره لکه په ځم کې.

و- دجمع دمخاطب لپاره لکه په ځوکښی.

ی- دمفرد مخاطب لپاری لکه په ځی کښی.

ئ- د مفرد مذکر غایب لپاره لکه څلمی تللی دی.

ل- د جمع مذکر مؤنثی غایبی لپاره لکه ملالی له خوبه پاحیدل.

ی- د جمعی مؤنثی غایبی لپاره لکه ځینی نجونی پوهنځی ولاړی.

www.libtool.com.cn

څرګنده ي: په حال او مستقبل کې د مفرد، جمع مذکر او مونث لپاره راځی، لکه ځلمی سهار وختی له خوبه پاخي- ملالی چای څښي، هلکان سبق وايي. نجونی خط ليکي.

دغه متصل ضمیرونه همیشه دا فعالو سره پیوست راځی، نوځکه فعلی ضمیرونه ورته هم وایی.

دغه متصل ضمیرونه دوه حالته لری، فاعلی او مفعولی. په لازمی فعلونو کښی دفاعل په حیث او په متعدی فعلونو کښی دمفعول په حیث راځی. مګر په استعمال کښی منفصل ضمیرونه هم ورسره راتلای شی.

## دضمیر فاعلی حالت

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| متکلم- زه ګرځم | مونږ ګرځو |
| مخاطب- ته ګرځې | تاسی ګرځئ |
| مذکر غایب-دی ګرځی | دوی ګرځي |
| مونث غایب- دا ګرځیده | دوی ګرځیدلی |

www.libtool.com.cn

## مفعولی حالت

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| متکلم-زلمی زه و پیژندم | زلمی مونږ و پیژندلو |
| مخاطب- زلمی ته وپیژندلی | زلمی تاسی وپیژندلی |
| مذکر غایب-مادی ولیده | مادوی ولیدل |
| مؤنث غایب- ماد اولیدله | مادوی ولیدلی. |

یادونه:

متصل ضمیرونه یوازی په ماضی فعلونو کښی مفعولی حالت لری اوپه حال اواستقبال کښی تل دفاعل په حیث راځی.

# زرغونه انا

زرغونه انا داعلیٰحضرت احمد شاه بابا مور وه. چي دا پښتنه میرمن د دی لویوهسکو غرونو په لمنو کښی دپښتونوالی یوښه محرکه بلل کیږی.

زرغونه انا د دې پاکي خاورې د خدمت او لوړ والی لپاره یو داسی نابغه زوی لکه احمدشاه بابا د پښتنو ملت ته تقدیم کړچی د «بابا» لقب یی وړی دی.

www.libtool.com.cn

همدغه رنګه دی پښتنی میرمنی د (انا) لقب ګټلی دی اوتراوسه پورې یي په پښتنی دنیا کښی نوم ژوندی دي.

زرغونی انا تل دخپل نابغه زوی سره په ښوښو افکار- وکښی مرسته کوله. لکه پخپلو پاکوشیدو کښی چي یي د پښتنوالی غذاورکوله. همداشان یي د پښتونوالی اوغیرت درس په خوله ورسوه.

په ۱۱۷۴ه کال چي احمد شاه بابا د پښتنو مشران اونور ارکان راوبلل چی دقندهار دنوی ښار د جوړولو لپاره یوه سمه او صحیح نقشه طرح کړی.

تردیر ونظر یو وروسته دا نظریه خوښه شوه چې ښار باید اووه دیوالونه اوڅو خندقونه ولری چې د دښمن له حملی څخه خوندی شی.

دانظریه ټولو و منله. مګر په دی حال کښی زرغونه انا خبره شوه. اعلیحضرت احمد شاه بابا یی کورته وغوښت ورته ویی ویل:

www.libtool.com.cn

زویه! داخبره ټینګه په غوږ کښی ونیسه... چې پښتون هیڅکله دخاورو دیوالونو ته پناه نه وړی اونه په خندق ځان له غلیمه خوندی کوی. پښتون دخدای (ج) په مرسته او په خپل مټ ځان او وطن ساتی. نو پخپل پښتنی همت اواستقامت په ځان او پښتون او وطن ساتی... خوشی دیوالونه او خندقونه مه جوړوه؛ په دی دیوالونو به یوازی زه اوته خوندی شو، هغه پښتنی وړینداری اوپښتانه و رونه چې دی خندقو او دیوالو. هغه خواته دی هغه نوله تاڅخه ساتنه نه غواړی؟ او زمونږ پښتانه . نه بلل کیږی؟ اوهم ته باید دومره انتظار ونه باسی چې دښمن ترښاره پوری راورسیږی.

هغه ؤ چې داحمد شاه بابا به مغز وخخه هغه دباندینی مفکوره ووتله اویوه معمولی کلایی جوړه کړه.

همدا شان نقل کوی چې: په ۱۱۷٤ ه کال داحمد شاه بابا دماتی زغ په د رواغو کندهار ته راورسید.

خلک داحمد شاه بابا له ماتی او دعسکرو د پوپنا کیدوله آوازی وار خطا شکاریدل، خو داخبره زرغونی انا ته ورسیده.

دی میرمنی وویل: بری اوماتی دتقدیر په لاس دی. مگر احمد خان وژنی او ماتی نه کوی.

زرغونه انا دکندهار د ښار له جورولو و روسته داحمد شاه بابا په ژوند وفا شوی ده. احمد شاه بابا په ۱۱۸٦ه کښی وفات شوی دی.

www.libtool.com.cn

# څلوریځی

زارشم، قربان شم دپلار ترپنده
راته یی ووی زما فــــــــرزنده!

لذت دورکوی تر ساتل ډیر دی
خوبی خبریې ممسک له خونده

چې به تری نه ووګلونه لانــدی
خوب به یې نشو په پالنګ باندی

اوس په لــحد کې پراته په خاورو
پری زرغونه شول ګنډیری سپاندی

ځوانمرد هغه دی چې لکه شمع
دځان سولو مجلـــــس کاجمع

دبــــــل لپاره که په خندا وی
پرمخ یې دروی باران ددمع

ژبه عادت کړه په ښو خبــرو
خبری ښې دی ښې ترشکرو

دخوند مثال یم شکری وایم
قــــدریی ډیر دی ترمرغلرو

www.libtool.com.cn

# حمد

کل ثنا په هغه ښایي
چې ثنايي هر څوک وايي
که څوک کوردی که څوک پاس دي
www.libtool.com.cn
د ده دواړه په سپاس دي
هسی لوی عظیم پادشاه دي
چی آسمان د ده خرگاه دي
ځمکه فرش وربانــدې غرونه
ځأی په ځای لکه مېخونه
دا همه د ده صفت دي
چې دملک زیب و زینت دي
په سجود ورته حجردي
په قیام ورته شجر دي
ده آفتاب هسی رخشان کړ
ده مهتاب هسی تابان کړ
دی دځمکی مخ زیبا کا
پری زیبا گلونه واکا

که ډیر څه در کاو ژباندی مـــه ویاړه
له خدا په نور څه بی خدا یامه غواړه

ژړا دقـــــــرب، ژړا دبعد ده
وخدای ته ژاړه له خدایه مه ژاړه

دا پندله مانه په زړه کـــــــی یاد کړه
www.libtool.com.cn
څوچې دی وس وی مروت او داد کړه
زړونه دهر چا په انسان ښاد کړه
آزاد بنـــده کړه، بنده آزاد کړه

چې حاضر نه وی ورته ښه وایه
که هر څوبدوی بد مـــه ووایه
که لږیا ډیر عیب په یار کې وینی
چـــی مخامخ شی ورته یې وایه

بحر خاموش دي سیلاب غــرغر لری
سیلاب تش لاسی سیند دامن پر لری
دسیـــلاب ګیډه له کانوډ که ده
بحر په ګیډه کی قیمتی در لری

که سپین اوسره یی په کور کې تل وی
چې نه یی علم نه یی عـــــمل وی

بنیاد یې نشه آخر به خوار شی
بخت به ترکومه ودسره مل وی
« عبدالقادر خان ختک»

ددی درس لغاتونه:

www.libtool.com.cn

| | |
|---|---|
| ممسک: بخیل | دمع: اوښکه |
| ویاړل: فخر کول | قرب: نږد یوالی |
| بعد: لریوالی | بحر: سمندر |
| مروت: میړانه | داد: سخاوت |

# دلیکوالی لارښوونی

۱. ښایی یولیکونکی لومړی داسی موضوع خوښه کړی چې هم ورسره مینه او علاقه ولری اوهم پکښی دپوره معلوماتو خاوند وی.

۲. ښایی چې یو مضمون په ښه رنګ شروع او په ښه توګه پای ته ورسیږی.

www.liblool.com.cn

۳. هره لیکنه د زړه خوښی په وخت کښی پکار ده. ولی چې دغسی لیکنه خوندوره او زړه راښکونکی وی.

۴. ښایی چې یولیکونکی دټولنی له غوښتنی او ذوق سره سمه لیکنه وکړی، یوازی دخپلی نظریی پیروی کوم ارزښت نلری.

۵. یولیکونکی ته په کار دي ترخوچې لاس یې ورسیږی پخپلو لیکنو کښی پردی لغات رانه وړی او خپله ژبه دنورو ژبو دتاثیر لاندی رانه ولی.

۶. ضرور دی چې یولیکونکی ساده وآسانه لیکنه وکړی چې هر څوک وربانده وپوهیږی اوخوند تری

واخلی، یعنی ښایی چې په مناسبو الفاظو اوخوږو کلمو خپل مطلب بیان کړی اوله زیاتر عباراتو او مبالغو څخه ځان وساتی.

۷. دکلمو په انتخاب ډیر فکر او غور او دلوستونکی دپوهی خیال ساتل پکار دی.

www.libtool.com.cn

۸. په لیکنه کښی دبل چاپسی کول ښه کار نه دی ښایی چی هر لیکوال په طبیعی ډول خپل مطالب ښکاره کړی. کټ مټ دبل چا دسبک تقلید ښه نه دی. ښایی چې دفکر ډول اوږ بیان طریقه موخپله وی.

۹. په یوه لیکنه کښی سرتر پایه هم رنګی پکارده یعنی یوعبارت ډیر ادبی لیکل اوبل په عادی رنګ لیکل دکمزوری اوبی تناسبی نښه ده.

۱۰. ښایی چې یو لیکونکی دجملو په جوړولو کښی له رنګینی څخه کار واخلی اوټولی جملی یو شان رانه وړی.

۱۱. یولیکونکی ته پکار دی چې له خپلی لیکنی څخه یوه ښکاره نتیجه واخلی.



PROPERTY OF ACKU

١٢. دیوکتاب اومقالی په لیکنه کښې د ماخذونو ښودل لازمی خبره ده.

١٣. هر لیکونکی باید خپله لیکنه په دوهم ځل وګوری ترڅو دعقل او ادب په چوکات برابره شی.

١٤. په مسوده کې دوهم ځل فکر کول او دهغه سمول یو ډیر ښه عادت دی. ښایی چې یوه لیکنه څوځله اصلاح کړای شی.

www.libtool.com.cn

١٥. مشق او مطالعه دلیکوالی لپاره یوه غوره لار ده.

١٦. دلومړنی مشق طریقه داده چې دیو اخبار سرمقاله په غور ولولی. مهم ټکی اوښه مطالب ورته یاد داشت کړی اوبیا هغه پخپل عبارت ولیکی، بیا پکښې دوباره غور وکړی چې څومره فرق پکښې راغلی دی.

١٧. دهری موضوع په باره کښې یاد داشتونه غونډول اوهغه په ښه شان ترتیبول دمضمون دلیکلو سره مرسته کوی.

# پند او نصیحت

درته وښیم کیمــــــــیا دسعادت

دبـــــــــــدانو سره مه کوه صحبت

که لویې غواړی ځان کم گنــه تربله

بل تـــــــــــرڼی د پاسه نشته نصیحت

www.libtool.com.cn

په دوستانو لطف کړه چې خو په تاشی

د دښـــــــمن سره هم ښه کوه خلقت

نورانی کا هغه ځای چې سره کښینی

ډیرینـــــــــــه ځلورهوښیار په مشورت

که گنجو نه دقارون درتـــــــــه انبارشی

په هـــــــــــرلوری غور ځوه په سخاوت

خو دوستی د دنیا ډیر وی په زړه کښی

هغـــــــــه هومره ډیر فساد وی قباحت

شور غوغا، جنگ وجدل به ترمینځ نه وو

که هر څوک سره راضی وای په قسمت

که راحت غواړی په ځان محنت قبول کړه

بی محــــــــنته هیڅوک ته مومی راحت

# پوهنه

پوهنه هغه رڼا ده چې تل يې د بشرى گمراهيو د تيارو سره مقابله کړيده او دناپوهيو تورتم يى پخپلو وړانگو روښانه کړيدى او د جهالت تورى تيارى يې له مينځه وړى دى.

www.libtool.com.cn

په دنيا کښى چې څه انکشافات شويدى اويا کيږى هغه ټول دپوهى له برکته دى اوداچى ځينى هيواد ونه پر مختللى دى اوځينى وروسته پاتى دى، داهم د پوهى اونا پوهى اثر دي، ځکه چې ټول پوهان دعلم اوپوهى د زده کړى او تحصيل توصيه کوى او انسانان د پوهنى په رڼا کښى د پوهنى خواته بولى.

خداى(ج) په قرآنکريم کښى فرمايلى دى:

آيا برابر دى هغه کسان چې علم لرى، له هغه کسانوسره چې علم نه لرى؟ يعنى برابرنه دى. همداشان حضرت رسول اکرم (ص) فرمايلى دى چې دعلم تحصيل په مسلمانانو باندى فرض دى. اروپايى

پوهانو هم د علم او پوهنې په توصیف کښې ډیر څه

ویلي دي، د مثال په توګه.

مولانا وایي:

«لوموړی شاګردي وکړه وروسته بیا ښوونکی شه.»

نورد ویلي دي:

«څوک چې پوهنه نلري ګویا ژوند نه لري.»

پاسکال وایي:

«د انسان لویتیا په پوهنه او فکر کښې ده.»

دلپینز وینا ده چې:

«د علم د زده کړې په وخت کښې باید فکر وکړو چې څه زده کوو؟ او له دې زده کړې څخه څنګه استفاده کوو.»

د یونان پوهانو هم د علم په باب کښې خپلې نظریې

څرګندې کړي دي.

افلاطون ویلي دي:

"هغه خوند چې له علم او پوهنې څخه سړي ته

حاصلیږي ډیر پاک او سپیڅلی خوند دی.

سقراط وایي:

« خپل وخت دی دخپل نفس داصلاح لپاره دګټورو آثارو په لوستلو صرف کړه او غلمو ته پرمال ترجیح ورکړه.»

www.libtool.com.cn

# حکایت

اوریدلی مې کیسه ده
چې له شاتونه خوږه ده
داختر په ورځ سهار
بایزید چې ونامدار
www.libtool.com.cn
له حمامه راوتلی
په کوخه کښی تیریدلی
ایری خاوری چاله بامه
راچپه کړلی ناپامه
مخ اوسریې شوککړ
په أیرو په خاور وخړ
با یزید په شکر کښېنوشو
دخپل مخ په پاکیدو شو
چی زه وړیم دبل اور
چی په اور کښی شم نسکور
له ایرو به څه بدوړمه
یا به لز شکوه کومه

# نعت

رب العالمین دی رحمة گنی

نه لری ثانی چې دی خاتم النبین گنی

ډیر خلک دی وایستل تیاروته درڼا لورته

ستاارښکې دا مسلمانان نور الیقین گنی

ته په مومنانو مهربانه له هر چاته وی

ځکه دی رؤف رحیم، ارحم الرحمین گنی

ستاخلق عظیم خو په قرآن کې خدای ستایلی دي

نور خلق لاڅه چې مشرکان دی هم امین گنی

ډیر دی له دوزخه گرځولی دجنت لورته

ښائی درسره چې دشفیع المذنبین گنی

تامومن په بعث بعدالموت باندی مومن کړلو

نه مری مومنان آب حیات داسلام دین گنی

غیب ته دی نظر متوجه دمومنانو کړ

ځکه حیوانی نظر سطحی او ظاهر بین گنی

دی دنیا نه ښه بله دنیا ځانته مومن لری

هلته مومن هرڅه لری کله ځان مسکین گنی

www.libtool.com.cn

هو، پوهانو ځان أيـــــــرى كړ

له لوينـــى يې ځان پرى كړ

څوک چې ځان ته ګــوذى تل

خــداى ته نشى كړاى كتل

لويى تل په ګفتـــــــــار نده

www.libtool.com.cn

لوخـــــــــــبره پكار نده

تواضع به دي سرلوړكا

تكبر به دي تل ځوړكا

لغات

١. شكوه = شكايت

٢. لوېى = تكبر

٣. تواضع = خاكسارى

٤. خوار = تيټ، بښكتيه

شعر كه نثر؟

په شعر يى ليكى كه په نثر؟

په نثر خويى نشم ليكلاى!

نو فقط په شعر به يى وايى؟

نو فقط په شعر به یی وایی؟

نه خیر شاعر نه یم.

آخر! خویا به یی په نثر لیکی اویا بَه یی په شعر وایی...؟

د ولی؟

www.libtool.com.cn

داځکه چې هر څه چه نثر نه وی هغه شعر دی اوچې شعر نه وی هغه نثر دی.

څنګه؟ که زه خپل پلارته ووایم: ماته له بازاره میوه راوړه، دانو نثر دی که شعر؟

نثر.

سبحان الله؟! څومره ساده یم، داپنځه لس ۱۵ کالبه کیږی چې په نثر خبری کوم خوتر اوسه نه پوهیدم؟!

# کتاب خرخوونکی

یو سړی له کتاب خر خوونکــی څخـه پوښـتنه وکــړه چی کتاب خرخولو کښی یې گټه ده که تاوان؟

کتاب خرخوونکی ورته وویل: تــاوان، داځکـه چـې څوک سواد لری هغه پیسی نلـری اوڅـوک چـې پیسـی لری سواد نلری.

www.libtool.com.cn

# دوه ملګری

دوه ملګری وو، چې یوملګری یې یوې لوړې رتبې ته ورسید، نوځان ځنې ورک شو خپل ملګری یې هیر کړ.

یوه ورځ هغه غریب ملګری د دې معتبر ملګری دنوی رتبې دتبریک لپاره ورغی. خومعتبر ملګری چې ډیر مغرور شوی ؤ، غریب ملګری یې ونه پیژاند اوپه ډیر غرور او تکبر یې ورته وویل:

www.libtool.com.cn

« ومې نه پیژندلی ته څوک یې ؟ او دڅه لپاره راغلی یې؟».

غریب ملګری ورته وویل:

« زه ستا پخوانی ملګری یم. زه خبر یم چې ته ړوند شوی یې نو ستاد تعزیت لپاره راغلم.»

# اشاري ضميرونه

په پښتو کښې ځينې اشارې ضميرونه هم شته چې د اشارې په ډول د اشخاصو او شيانو په ځای استعماليږي.

په پښتو کښې اشارې ضميرونه په لاندې ډول دي:

دغه، دغو- د نږدې مذکر لپاره.

دغې، دغو- دنږدې مؤنث لپاره.

هغه، هغو- دليرې مذکر لپاره.

هغې، هغو-دليرې مونث لپاره.

په دغو کلمو کښې (دغې، هغې) دمفرد مؤنث لپاره، او دغو، هغو دجمع مذکر او مؤنث لپاره دماضي متعدې په فاعلي حالت او ارتباطي حالت کښې استعماليږي او (دغه، هغه) په نورو حالاتو کښې دمؤنث، مذکر، جمع او مفرد لپاره يو شان راځي.

مثالونه يې په لاندې ډول دي:

| فاعلي حالت | ارتباطي حالت | نورحالتونه |
|---|---|---|
| دغې ډوډۍ پخه کړه | له دغې نه قلم واخله | دغه راغلې ؤ |
| هغه کالي ومينځل | هغې ته کاغذ وزکړه | دغه راغلې وه. |
| دغولاړ جوړه کړه | ددغو کارولي نه کوې؟ | هغه نه ؤ راغلې |

| هغو خپل کار وکړ | له هغوی ونښتنه وکړه | هغه نه وه راغلی |
| --- | --- | --- |

یادونه: له اشاري ضمیرونو سره که چیري مرجع نه وي ذکر شوي، نواشاري ضمیرونه بلل کیږي. لکه په پورته مثالونه کښې، او که چیري مرجع ورسره راغلی وي نوبیا ورته اشاري صفت ویل کیږي.

www.libtool.com.cn

لکه: دغي ښځي دودي پخه کړه- دغوسړو لارجوړه کړه.

دغه هلک یو پوه هلک دي.

# لویوالي

شپه او ورځ وړیسی ګرځی هرانسان
دی مقصد ته رسیدل نه دی اسان
بډایانو پیدانکړه په ډیر مال کښنی
تش لاسونه بیرته راغلل تاجران
په یوازی علم کله حاصـــــلیږی
مالیدلی د ډیر علم خاوندان
هسی وایی په قوت او زور مونده شی
په غلطه لاره تللی ظالمان
چې په تش کمال او فن باندی یې غواړی
په ربښتیا چې غولیدلی داکسان
په رتبه یا نسب کله څوک لوییږی
لویوالی مه ګڼه هومره ډیر ارزان
بی د دین له خدمت بله لاره نشته
په دی لاره کښنی یې مومی هوښیاران
که قوت لري، که علم، که دولت دی
که داټول کړی په همدې ځای کی قربان

www.libtool.com.cn

نوبه هلته ستا به برخه شي لويوالي
یه دی شرط که ددنه وزک نشی خپل ځان

www.libtool.com.cn

# لطیفه

یوه سړی یوه ګنډونکی ته یوه پیاله چې په قیمتی دسمال کښې تړلې وه، ورکړه چې دامانت په توګه یې ورته وساتي. ګنډونکی پیاله په تاخچه کښې کیښوده او خپل شاګرد ته یې وویل:

www.libtool.com.cn

د دې پیالې سره غرض ونکړې چې زهر پکښې دی. لږ شیبه وروسته ګنډونکی دخپه کار لپاره دباندې ووت. شاګرد فکر وکړچې په دې پیاله کښې خو ښه کمال شته او حتمي یې باید وګوري. پیاله یې راواخیسته. وې لیده چې له شاتو ښخه ډکه وه نو ژر یې همدغه دسمال چې پیاله پکښې تړلې وه، یوه ډوډۍ پخوونکی ته وروړاو په بدل کښې یې ورښخه توده ډوډۍ راوړ او شات یې ورسره وخوړل. تشه پیاله یې په تاخچه کښې بیرته کیښوده او بیده شو.

کله چې ګنډونکی راغی ویې لیده چې پیاله تشه پرته ده او دسمال هم نشته. شاګردیې راویښ کړ او پوښتنه یې ورځنې وکړه چې داولې؟ شاګرد ورته وویل

چې: زه ویده وم چې را ویښ شوم او مې کتل چې دسمال نشته او چا غلا کړی دی. ومې ویل چې اوس به استاد ته څه ځواب ورکوم؟ نوهغه زهر مې وخښل چې مړشم. دمرگ په انتظار پروت وم چې ته راغلی.

www.libtool.com.cn

بار دنیا هرڅو مره که سپک وی ښه پر والری

تله دعمل یی که درنه وی ځان سنګین ګڼی

ستامینه می بس ده چې له ځان سره یی خدای ته

وړم

ستا رضا "الفت" رضا درب العٰلمین ګڼی

www.libtool.com.cn

# حمید مومند

حمید بابا دپښتو ژبې دیر نازکخیال او باریک بین شاعر تیر شوی دی چې ترده و روستو شاعرانو ورته دده دنازک خیالیو او نادرو تشبیهاتو او استعارو وله مخې د موشګاف لقب ورکړی دی: پیر محمد کاکړ چې داحمد شاه بابا په وختوکې اوسیده، ترخوشحال، رحمان بابا، عبدالقادر او اشرف خان هجری و روسته دحمید داسې یادونه کوی!

پس له دوی نه موشګاف عبدالحمید دي

چې يې ووی ښه نازک نکته دان شعر

شمس الدین کاکړ وایې:

پس له ده نومو موشګاف عبدالحمید دی

باریکی یې دکلام ده دځان شعر

عبدالله محزون وایې:

دحمید موشګاف وخیال ته هوش کړه

ګوندې شي دده په جذب تیز نظر

میرزا خان ویلی دی:

www.libtool.com.cn

که هر څو شعر بلند وايي حنانه!

دحميد موشګاف نه شي ځواب

حميد بابا په قوم مومند او ديپښور د ماشوخيلو په کلي کې زيږيدلی دی خود زيږيدو نيټه يې معلومه نه ده مګر مرينه يې پروفيسر بومهارت په ۱۱۴۵ ه کال کې بللې ده.

دحميد بابا په شعر کې علاوه په نورو ادبي مزاياؤ دوه مهم خصوصيتونه ليدل کيږي: يو خصوصيت يې شعري ته لاز ټاته ښکلي تشبيهات اوخوند وړي استعاري دي چې په دې لاره کې ځانته سبک لري او دده شعرله نورو څخه جلا کوي. او بل خصوصيت دادی چې د پښتو ژبې ډير زاړه لغتونه يې په خپلو اشعارو کې استعمال کړي دي. حميد بابا برسيره په نازک خيالي اجتماعي شعرونه هم لري چې داسې وايي:

چې داوسپني ځنځير شلوی په ګوتو

هغه ديو په اومه تار داحسان نښلي

دامضمون چې بې زحمته راحت نشته. په ښه ښه الفاظو کې بيانوي:

څو شبنم غوندی شبگیر په سروانخلی

له گل دخ سره به نه شی هم آغوش

دنازولی اوجاهل زوی په باب کی څه ښه وایی:

نازولی زوی نه اخـــــــــلی ادب

اودِسیوری نخل نه نیسی رطب

www.libtool.com.cn

ونیومشه هغه زوی دی پخـــوا پوزی

چی یې نه نیولی درس وی نه مکتب

په غوجل کی بازی خر او کچر ښه دی

نه په خونه کې جاهل اوبی طلب

دننگ او دناموس په باب کې وایی:

چی دبل ننگ وناموس ساتلی نه شی

. وبه نه ساتی څوک خپل ننگ وناموس

دحمید بابا آثار دادی:

۱. دحمید بابا داشعارو دیوان چی د پخوانـی لیکوالـو
په منځ کې په «درو مرجـان» مشـهور دی او تقریبـا
دزی سوه غزلی لری اوڅو واره چاپ شوی دی.

۲. د۱۱۲۷ ه کال یی د «شاه گدا» قصه چی دمخه هلالی په فارسی لیکلی وه حمید بابا په پښتو ترجمه کړی ده.

۳. دمولانا غنیمت د «نیرنگ عشق» ترجمه ده چی په پښتو مثنوی یی ترجمه کړی ده او په پای کي وایی:

www.libtool.com.cn

شعرنه دی داخوناب دزخمی زړه دي
یاوتلی دستی دم له خولی د مړه دي
یا نغمه دنیم بسمل مرغه دخولی ده
یامجنون ته معمی ښکلی لیلی ده
یادوینو آبا سیندو هلـــــــی موج دي
یاله ښاره دحیرت وتلی فوج دي

# زده کړه!

په نغمه لکه بلبل غړیدل زده کړه!

پټه خوله وینا د ګل بلبل زده کړه!

رخت په سر کړه له غنچې نه را بهر شه!

په هوا لکه وږمه چلیدل زده کړه!

www.libtool.com.cn

دازغی په څیر د ګل سره همراز شه

په ژیړه صورت د ګلو ساتل زده کړه!

نسترن شه په آغوش سرو آزاد کړه

په هربوټي د ګلشن تاویدل زده کړه!

کوږنی مرغه په شان به خومره ژوند کړې

د شاهین په دود آزاد الوتل زده کړه!

که د نړۍ آسایش او آرام غــــــــــوارې

ګهوارې غوندې د ځان کړیدل زده کړه!

راحت پریږده. زحمت واخله «سیدحسنه»

د وطن په در د و غم ژړیدل زده کړه!

# دشاعر مدح

ابوالعينا دبغداد مشهور شاعر او ټوکی؛ دابن مکرم دمصرله ټوکی شاعر سره دکوم امیر په مجلس کی خنګ پر خنګ ناست و. اویو دبلبل سره یی پټمی خبری کولی.

www.libtool.com.cn

امیر د دوی سرګوشی ته ملتفت شو، او دټوکو په ډول یی ورته وویل:

بیاخه درواغ جوړوی!!

ابوالعینا فورا ځواب ورکړ:

«ستاسی مدح کوو!!»

# میرزا خان انصاری

میرزاخان انصاری د نورالدین زوی او دبایزید روښان لمسی دی. په تیر «اورمړ» او په غالب گمان سره د ۹۸۸ ه ق کال په شاو خوا کی زیږیدلی دی.

www.libtool.com.cn

بایزید روښان دافغانستان په تاریخ کی دیو اتل مجاهد حیثیت لری. ده او د ده څواکونه تر ډیره وخته پوری دمغولی حکومت مقابله کړیده. خو ددغو جنگو نوځخه وړاندی او وروسته د میرزاخان انصاری په هکله تاریخ هیڅ ندی لیکلی خو دومره اټکل کیږی چې یا خو میرزاخان انصاری د روښانی نهضت دمشری څخه بې نیازه ؤ اویا داؤ چې یو فقیر مزاجه سړی ؤ چی دتبلیغی او دینی چارو څخه پرته یی دمشری او واکمنی سره مینه نه وه.

خپله میرزاخان انصاری داسې وایی:

« ددنیا په جنجال خرنگه خو دنمایی

ښی د دین خبری زده کړی له خطیبه»

د داورتی انگریز. ختیځ پیژندونکی دوینا مطابق. میرزاخان انصاری یوسیاح وچی دهرات څخه تراګری پوری په ټول افغانستان اوهندوستان کی مشهور و. کیدای شي چې د داورتی دغه وینا تر ډیره حده حقیقت ولري. د میرزاخان انصاری دلاندی بیت څخه د ده سیاحت معلومیږی.

میرزا خان په برهان پوړکي ننداره کړه
له اصلی وطنه راغی بیانه ځینه

د میرزاخان انصاری دمړینی نیټه ښه معلومه نده خو دولت لوانی د ده د مړینی نیټه دخپل شعر به یوبیت کی داسی ښو دلی ده:

د دکن په جنګ شهید شوی خشنود اوسه
په تاریخ د زرخلوینښت کې دی ګذرو

ددغی جګړی ضحنه په خپله د میرزاخان انصاری په شعر کې داسي انځور شویده:

په تاریخ د زر خلوینښت وُداخبر
چی لیده شو په دکن ګوجرات جبر

له دی شعر څخه څرګندیږي چې میرزاخان انصاري په ۱۰۴۰ ه ق د دکن په یو جنګ کې شهید شوی دی.

د میرزاخان انصاري شاعري:

میرزاخان انصاري د بشپړ دیوان خاوند دی، چې ځینو لیکوالو دي دپښتنو شاعرانو په لومړۍ لیکه کې درولی دی.

www.libtool.com.cn

د میرزاخان انصاري شاعري تصوفي رنګ لري، دکلام جام یې د توحید اسرارو او رمزونو په میوډک دی، د وخت او معرفت رازونه یې ډیر ښکلي بیان کړیدي. د ده دیوان ادبي، علمي او تاریخي ارزښت له دې څرګندیږي چې کلام یې مونږ ته د تصوف دیوی منظمې مفکورې په توګه وړاندې شوی دی.

همدارنګه که مونږ د انصاري دیوان په غور او ځیر سره تره کتنې لاندې ونیسو موجبو تیزي چې د ده وتصوف کیفیات د رحمان بابا غوندې ښکاره ندي. خو سره له دې بیا هم دیوان یې له دغو ښکلو څخه بیخي خالي ندی بلکې ډیر څه لري.

نن به وکړم خـــــــــــوصفته

دمـــــــولا له ارادتـــــه

هریوفعـــــــــل چې یې وینی

خـــالی ندی له حـــکمته

پر احمد«ص» نزول قـــرآن شو

www.libtool.com.cn

چې سل څوارلس یې سورته

چې شپږ زره په شـــــمار دی

شپـــــــږ سوه شپږ شپیته آیته

دیرش یې سپـــــــاری دی

څوارلس یې سجده دی تلاوته

دری لکه دیرش زره دولس حرفه

بیـــــــایی څوارلس روایته

په پښتوبه یې زه وایم دهر حرف یـــازده لغـــــته

رهبری یې دتوحـــید که په څــولونه عبـــــارته

کل صفت یې بیان شوی دتوحید له مــــــعرفته

لکه علم دتوحیـد دی نور دی واړه اشـــــارته

دمیرزا کلام شیرین شو

دروښـــــــان له بـــرکته

# رحمان بابا

عبدالرحمان بابا په یوه غریبه کورنۍ کښې پیدا شوی دی. د دې نامتو شاعر ابتدائي معلومات تر اوسه چا مفصل ندي لیکلي. دده له ځینو اشعارو او ځینو پوهانو له معلوماتو څخه فقط دومره څرګندیږي چې عبدالرحمان په قوم مهمند او د مهمند دبهادر کلي کښې زیږیدلی دي. عبدالرحمان پخپله زمانه کښې یوصوفي مشرب او په عشق کې داسې ډوب شاعر تیرشویدی چې په خپلې فقیر مزاجي او په عشق کې یې فنا شوی حالت دی ویتولو پښتنو په زړو کښې محبوب ګرځولی دی.

www.libtool.com.cn

عبدالرحمان تر ۱۱۱۸ هجري کال پورې ژوندی ؤو. ځینې خلک داهم وايي چې رحمان بابا په زلمیتوب کښې یو پلا خوشحال خان سره په اکوړه کښې لیدنه کړیده. نو په دې صورت کښې موږ ددې نومیالي پښتون شاعر د ژوندون کلونه له ۱۰۵۰ هجري څخه تر ۱۱۲۰ هجري پورې تخمین کولای شو.

# مثنوی

له هرچا سره چې یونفس قرین شوم
دهغوله خویه بویه په زړه شین شوم
زړه مې خوږ په هیچانشی په عالم کې
له عالمه پسره زیست کړم په ډیرغم کې
خو دسردله مخه څوک داسره یار شو
چې یې خپل مقصد پوره شونور ویزار شو
چې یې مخ په مخ له تاســــره وفا وی
په قفا در سره خیره په سل جفا وی
چې یې ښه ګڼی هغه در سره بدشی
تل له تاسره په ړخه په حسد شی
هر چه تاسره یاری کانــــه یاران دی
همګی واړه لړم دي یاماران دي
تش دخولی لباس مباس دی سره کیږی
دهرچاخاطر خپل سو دوته پر کیږی
دراحت په وخت سل لافی دیاری کا
دمحنت ساعت چې راشی ویزاری کا

www.libtool.com.cn

شاه جهان بادشاه څه لز نه وونمنځلی

چې په بند شوهمګی ووځنی تللی

هئ توبه له دې جهانه تنبی تنبی

په صحرا کې یکتنها ګرځیدی ګوښی

www.libtool.com.cn

# بيټ نيکه

بيټ نيکه د پښتنوله مشهورونيکو نوڅخه ؤ. ده دوه نور ورونه درلودل، چې يو سربن اوبل غرغښت نوميده. چې هغوی ته هم دپښتنو ډيری قبيلې منسوبې دی.

www.libtool.com.cn

دبيټ نيکه نوم مؤرخينو «بيټني» او «بټن» هم ليکلی دي او دده ژوند د ۳۰۰ه او ۴۰۰ه ترمينځ اټکل شويدی.

ترټولو پخوانی کتاب چې ددی نيکه نوم او اشعار پکښې راغلی دی د تذکرة الاولياً کتاب دی چې سليمان ماکو په ۶۱۲ ه ق کال په پښتو ليکلی دی او دبيټ نيکه يا دونه داسې کوی:

نقل هسی کاندی يارانو! چی روزګار بيټني کښې د ده و رورچې سربن نوميده او پر شيخ بيټني هم خوراګران ؤ. زامن نه درلودل. بيټني خپل زوی اسمعيل وزکړه او دسربن په کاله لوی شو. مهربان

خدای د اسمعیل په برکت سربن ته ډیر زامن په نصیب کړه.

بیت نیکه سربیره پردی چې د پښتنو له مشهور ونیکه ګانو څخه ؤ. مناجات یې سلیمان ماکو پخپله تذکره کښې داوړی اولیکلی: نقل کوي چې شیخ بیتنی سپین ږیری شو، نو ده به هرکله ښښتن ستایه اوږب ته به یې درخواست کاوه چې زما په کهول او د سربن اوغرغښت په کهول کښې برکت کېږی.»

www.libtool.com.cn

# دپښتو ترجمې

دپښتو دترقی او دژواندانه داړتیاو په اساس ورځ په ورځ په پښتوکي له نورو ژبو څخه د ترجمو لمنی اړتیږی. یوه ژبه هم بی له ترجمو څخه مخ په وړاندی نشی تلای. پښتو هم اړومرو ترجمه ته اړتیالری او په دی وسیله به دپښتو لمن له علمی آثارو څخه ډکیږی.

www.libtool.com.cn

مگر په یوه ژبه کی دنورو ژبو علمی کتابونو او آثارو ترجمه کول ځینی شرطونه هم لری. که چیری هغه شرطونه برابر نه وی نو بیا ژبی ته دفایدی په ځای زیان رسوی. په موجوده وخت کي چې له پارسی څخه په پښتو کی ترجمی کیږی یقیناً چې دغه ترجمی د داسی کمزورو کسانو په لاس کیږی چې نه په پښتو سم پوهیږی او نه په پارسی کې پوره مهارت لری.

که چیری دی پلوته پوره توجه ونکړای شی نو د پښتولیک ډول به دنیمگړو ترجمو سیلاب په مخه یوسی اوبیا به څوک په ښه او بده ترجمه کې توپیر نشی

کولای. له دی کبله غواړو چی په دی برخه کې ځینی لارښوونی وکړو.

۱. له هر څه نه ړومبی پخپله د ترجمی کوونکی زیات زحمت، پوره غوره او پاملرنه پکار ده. که څوک په دغه کار کې بی پروایی کوی او د پښتو د ښه والی خیال نه ساتی نو دهغوی ترجمی به خامخابی مزی وی.

۲. دیو پوخ لیکوال له خوا دځینو ابتدایی ترجمو کتنه او سمونه هم یوه ضروری خبره ده. ولی چې یی لارښودنی هیڅوک کوم ځای ته نشی رسیدلای.

۳. دکلمی په ترجمه کې که مشتبه وی له پوهو کسانو څخه پوښتنه پکار ده په دی برخه کې شرم کول یا سترگی پټول د وروسته پاتی کیدو لوی سبب دی.

۴. ترجمه کوونکی باید په دواړه ژبو پوه وی، که چیری په دواړو ژبو باندی ونه پوهیږی ترجمه یی خامخا دمعنی، تعبیر او مطلب له مخی کمزوری راځی. او دا دیوی ترجمی له پاره لوی عیب گڼل کیږی.



www.libtool.com.cn

۵. ښه ترجمه هغه ده چې په محاوره برابره او د خلکو له پوهې سره سمه وي. له محاورې نه وتلې ترجمه بې ارزښته بلل کیږي.

٦. ټکی په ټکي ترجمه کول هم سمه او خوږه نه راځي.

www.libtool.com.cn

۷. په ترجمه کې دبلې ژبې مطلب او معنی د پښتو په کالب او چوکاټ کې اچول پکار دي. لکه چې دمخه موهم ویلې دي. دخپل چوکاټ غوښتنه داده چې پښتو په محاوره برابره دي، کوشش وشي چې دبلې ژبې لغات پکې نه وي. ډیرې اوږدې جملې باید رانه وړل شي، مبتدا او خبر دې تر بله نږدې وي.

۸. که چیرې یومطلب په یوه جمله کې نه بیانیږي نوبیا د عطف د توروپه واسطه دجملو ترمینځ تړون راوستل پکار دي.

۹. کټ مټ دبلې ژبې په ډول ترجمه کول د ژبې ملا ماتول دي. مثلاً که څوک « ضرب زیداً عمراً» داسې ترجمه کړي « وواهه زید عمر» نودا به

ښومره ناوړه ترجمه وي، که دپښتو په محاوره یې برابره داسې ترجمه کړي:«زید عمر و واهه» نوخوږه پښتو به تري جوړه شي.

۱۰. په پښتو کې دفعلی جملی ډول اوبنه داده چې لومړی فاعل، بیامفعول اوو روسته فعل راځي مگر عربي له دغه ډول ښخه چپه رنګ لري، هلته اول فعل، بیا فاعل او وروسته مفعول راوړل کیږي نوځکه ټکی په ټکی ترجمه کول سمه او روغه نښي راتلای.

www.libtool.com.cn

۱۱. په ترجمه کې کټ مټ دبلی ژبې اصطلاح او تعبیر اخیستل غلط کار دی. دفارسي « قرارمعلوم» دمعلوم له قراره ترجمه کول دفارسي او پښتو دواړو خواښول دي.

۱۲. په دی ډول وفارس لب دریا په پښتو کې د سیندپه غاړه ترجمه کیږي، که څوک یې د سیندشونده ترجمه کړي نوښومره ناوړه ترجمه به وي.

۱۳. دنومونو اوعلامو ترجمه کول سم کار نه دی بنایی چې دنومونو ترجمه په خپل شکل راشي او اصلي

رنګ او بڼه یې      بدله نشي. مثلاً که څوک «اناتول فرانسی» د فرانسی په اناتول ترجمه کړي نودا به دبي ذوقي یوه اولویه نښه وي.

۱۴. په ترجمه کې دکلمو له تکرار څخه ځان ساتل هم ضروري دي. یو کلمه بیا بیا راوړل د ترجمې خوند او مزه بیخي له مینځه وړي.

۱۵. له ترجمې نه مخکې ښایې چې یو مضمون ږوم بې وکتلی شي، په دماغ کې ښه ځای کړای شي او پس له هغه یې په ترجمه کولو لاس پورې کړي شي.

د ترجمې د پاره دنورو پښتنو پوهانو په نظر نور شرطونه هم شته چې په لاندې ډول دي.

۱. له کومې ژبې نه چې ترجمه کیږي ښایي چې مترجم به هغه ژبه باندې ښه پوه وي او د هغې ژبې قواعد او اصطلاحات ورته پوره معلوم وي.

۲. ښایي چې مترجم د ترجمه کیدونکې کتاب دلیکلو د زمانې په لغاتو او حالاتو او دکتاب او دکتاب دلیکلو په سبب او باعث ښه خبروي.

www.libtool.com.cn

۳. په کوم فن کی چې مترجم ترجمه کوی ښایی چی دهغه فن په اصطلاحاتو ښه پوه وی او ددغه فن سره یوه خاصه علاقه ولری.

٤. ښایی چې مترجم دعلمی لیاقت خاوند او د پراخې مطالعې څښتن وی.

www.libtool.com.cn

٥. ښایی چې مترجم په خپله ژبه کی پوره مهارت اولاس ولری او د خپلی ژبی له قواعدو، اصطلاحاتو، متلونه اولغاتو څخه په ښه شان خبروی.

٦. ترجمه باید په آسانه او روانه طریقه وی چی لوستلونکی تری پوره مطلب واخیستلای شی.

۷. ترجمه باید په معنی او مفهوم کې له اصل سره سمه وی. نه پکی داصل مضمون دمطلب نه څه پاتی شی او نه پکی زیاتوالی راشی.

۸. دښی ترجمی صفت دادی چی اصل مطلب پکی داسی ادا شی چې لوستونکی پری دترجمی گومان ونه کړی. بلکه اصلی مضمون یی وبولی.

رحمان بابا یو دیوان لری چې په دوو دفترونوکې لیکل شوی دی. په دی دواړو دفترونوکښې دشاعرانه فن او ادبیاتو دنازک خیالی له مخی څه خاص فرق نشته. دواړه دفترونه یې دیوه پاخه فکر او لوړ دماغ نتیجه ده.

www.libtool.com.cn

د رحمان بابا اشعار ډیر ساده، سلیس او روان دی. د اشعار ومضامین ئې اخلاقی، دینی، اجتماعی او دتصوف لویه برخه لری.

د پښتو ژبې په کتابونوکښې دا دیوان فوق العاده شهرت لری. او پښتانه د رحمان بابا دیوان ته په درنه سترګه ګوری، ځکه هغه دپښتو دیوه پیاوړی شاعر داخلاقی، دینی، اجتماعی او تصوف د اشعار ویوه لویه مجموعه ده.

۹. شایی چی مترجم دلیکوالی په فن کې دپوهې اوتجربې خاوند وی او د ژبې له قاعدو او اصولو څخه خبروی.

www.libtool.com.cn

# ښه میرمن

وايي چې يوچايو سپين ږيری او بوډا سړی په شا ډاکتر ته دمعالجې له پاره راوړ. ډاکتر له روغ سړي څخه پوښتنه وکړه چې: دا ستا پلار دی؟

روغ سړي ورته وويل: دا مې پلار ندی دا مې زوی دی! ډاکتر په ډېر تعجب و پوښته چې:« ته ولې داسې ځوان يې او زوی دې داسې سپين ږيری او بوډا دی؟

روغ سړي ورته ځواب ورکړ: « دا ځکه چې زه په کوژکی نيک کرداره، په ژبه پوهه، کاريګره او پاک لمنې ميرمن لرم چې دباندې په ډېر قوي او ډاډه زړه کارکوم او په کوژکي د دې په خندا ټول غمونه او ستړياوې را څخه لېرې کيږي.

خود زوی مې داسې ښځه ده چې هرکله سره ووينې د دواړو روحي زنځ زياتيږي، ځکه چې روحي توافق نه لري او بل داچې ښځه يې ډېره عصبي، بيکاره او ناپوهه ده. او همدا سبب دی چې زما زوی دې حال ته رسيدلی دي!!

www.libtool.com.cn

# دځان وير

یو دخپل ځان ته یم، نورچې ګوري دهرچا یمه

خدایږو د ژړایمه

خدایږو د ژړایمه

ځانته درمل نه شوم، خو د نورو تل دوایمه

www.libtool.com.cn

خدایږو د ژړایمه

خدایږو د ژړایمه

نوی شوه نغمه د ژوند

ګرمه هنګامه د ژوند

تیره قافله د ژوند

یوزه تنها پاتې بې جرس او بې صدایمه

خدایږو د ژړایمه - خدایږو د ژړایمه

بند په ساحری دچا

قید کړم سامری دچا

وریت شوم په نغری دچا

سوځم نه پوهیږی وږتیدوته په خندایمه

خدایږو د ژړایمه

خدایږو د ژړایمه

ځانته ویرانه یمه

بل ته خزانه یمه

پټه افسانه یمه

په ځان مې څه ونکړه په تعریف دتیرابایمه

www.libtool.com.cn

خدایږو د ژړایمه

خدایږو د ژړایمه

وږکه ابتدا زما

سرشوه انتها زما

تورتم ده دنیا زما

نن پرون مې ولاړه، ناخبره له سبایمه

خدایږو د ژړایمه

خدایږو د ژړایمه

# توکه

یو سپین ږیری کروند گرچې زامن یې نه درلودل او دبیکسی احساس یې کاوه دیو مزدور دنیولو په هڅه کی ؤ. ناخبره یوزلمی په مخه ورغی او ورته ویې وویل: ماماجانه! زه مزدوری کوم، که څوک مزدور نیسی

www.libtool.com.cn

اوتاته معلوم وی، نوماته یی پته راکړه چې ورشم.

سپین ږیری په زړه کښی ډیر خوښ شو او ورته یی وویل: بچیه! زه خپله مزدور نیسم، راځه له ماسره مزدور شه.

په ټاکلی تنخوا زلمی له سپین ږیری سره مزدور شو. اوفیصله داسی وشوه چې کوم وخت بادازله مزدوره دخوښی څرگندونه وکړی او په خندا وی، نو زلمی به دتنخواد زیاتوالی تقاضا کوی.

څو ورځی و روسته یی یوه ښه غنم په خره بارکړل او مزدور ته یی وویل چې دا ژرنده کښی اوړه کړه.

زلمی غنم ژرندی ته ورسول او د ژرندی په ډول یی خالی کړل. ژرنده گری ورته وویل:

دا غنم ډیر ناپاک دی اول یې پاک کړه بیایې اوړه کړه. زلمی ورته وویل: اوس مې د ژرندې وار نیولی دی او په دول مې اچولي دي بیا به اوړه پاک کړم.

شپه راغله. ژرنده گرې کور ته لاړ. زلمی ژرنده کښې پاتې شو.

www.libtool.com.cn

لیوه راغلې اوخرېږې د ژرندې په مخ کښې ټوټې ټوټې کړې او ویې خوړې. زلمی چې له اوړه کولو نه وزگار شو. نو اوړه یې د ژرندې مخې ته راویستل په څادرېې با- دول شروع کړل اوټول اوړه بادیوړل.

ژرنده گرې چې ژرندې ته راغې. نوله زلمي نه یې بوجی د اوړو په مزد کښې واخیسته.

زلمی تش لاس کورته راغې. بادارېې پوښتنه وکړه چې اوړه دې څه کړل؟

زلمی ورته وویل چې غنم ناپاک وو. پس له اوړه کولونه مې وغوښتل چې اوړه پاک کړم. نوهغه ووچې ټول با دیوړل.

بادار ورته وویل چې خردی څه کړ؟ زلمی ورته وویل: هغه لیوه وخوړ، بادار له غوسی نه وخندل.

مزدور وویل: اوس به مې نو تنخوا زیاتوی.

www.libtool.com.cn

# مناجات

خاوند هسی اراده او تصمیمونه راکړه
چی پری دکفر دلښکرو دسیسی ماتی کړم
په گوزار ونوکي می داسی برکت واچوه
چی داسیر وولسونو زولنی ماتی کړم
www.libtool.com.cn
هسی همت، هسی غیرت اوهسی توره راکړه
چی دستمر اوبی لاریو بتخانی ماتی کړم
چی ستا په لار کی یی قربان کړم داسی سرغواړمه
دمظلومانو په خیرومین ځیگر غواړمه
خدایه! لوړ خیال او لوړ عظمت دمسلمان راکوه
مادبنده دغلامیونه خپلواک وساته
چی دذلت او دغفلت توری پردی وخیرم
ماستا په لار کی ملاتړلی اوچالاک وساته
د آرمانو نوډک زړگی می درته سپارمر زه
دزمانی له آفتونونه یي پاک وساته
له سوی آه نه می خاونده تو پانونه جوړ کړه
له تویو وینو می غلیمر ته سیلابونه جوړکړه

# متلونه

۱. بېکاري د بدبختۍ زانګوده.

۲. بدخوی چې زوړ وړشي، نو عقل مروړشي.

۳. اوسپنه په اوسپنه ماتیږي.

www.libtool.com.cn

٤. اوسپنه چې خومره تکیږي، هغومره پخیږي.

۵. بازچې هر خومره خوارشي چونګسی نه خوري.

٦. ځانده ته شپه او ورځ یوه ده.

۷. بې میوې ونه څوک په ډبره نه ولي.

۸. اوبه په ډانګ نه بېلېږي.

۹. امانت ځمکه هم نه خیانتوي.

۱۰. هوښیاري ته اشارت، کم عقل ته ګوتمک.

۱۱. پردي خواږه، یا پور دي یا پیغور.

۱۲. پرښو تلوار پر بدو تأمل.

۱۳. ترخه خوږه خوترخه مه وایه.

۱٤. لږ خوږه هوسا به اوسې.

۱۵. پلار ګټلي زوی ته آسان وي.

- پای -

PROPERTY OF ACKU

ARIC
B.
6. 431
PSD
9004 v.19

مونږ په خدای باندی په ایمان درلودلو سره

په آزادی او عدل په باور لرو سره

د علم په زده کولو سره

د تا خوندی او ورور په یاری سره

د جهالت، فقر او ستم په ډیو باندی

PROPERTY OF ACKU

بریالی کیږو

www.libtool.com.cn

" همتا "

# د رحمان بابا دکلام نمونه

چه مدام دبل وعیبوته نظر کړی

خدای له خپله عیبه ولی بیخبر کړی

که یوه جودانه عیب وینی به بل کښی

هغه یوه جودانه عیب به یی لوی غر کړی

www.libtool.com.cn

که دی خپله گناه لویه لکه غروی

په حیله حیله به غر دمچ وزر کړی

که خوک تله دانصاف په لاس دی درکړی

خپل ټټو دبل آس به برابر کړی

تولعنت دی په داهسی منصفی شه

چه له حقه وباطل وته گذر کړی

تاته رب دملایکو مقام درکړ

ته داخپل صورت پخپله گاو و خر کړی

که دی یو ویښته دځان دپاسه کوزشی

ځان هغه ساعت له خدایه مرور کړی

د ځوانی عمردی تیر کړ په غفلت کښی

په پیری کښی به خه زیرمه دمحشر کړی

په پيرى کښى دځوانى چارى نه ښايى

ته په ورځ دعاشورى به څه اختر کړې

لکه بيخ د زړى ونى چنجى وخورى

په داتير عمر به څه شاخ وثمر کړې

دغه باغ به دى خلاص نشى له خزانه

که چا پيرورځنى سدد سکندر کړى

وبدخواه وته هيڅ څوک نصحيت نه کا

(رحمان) ستا په غم شريک دي که باور کړې

www.libtool.com.cn

# خپل عمل دلاري مل

کرډ گلوکره چی سیمه دی گلزار شی

اغزی مه کره په پښو کښی به دی خارشی

ته چی بل په غشو ولی هسی پوه شه

چی همدا غشی به ستا په لور گوزارشی

www.libtool.com.cn

کوهی مه کنه دبل سری په لار کښی

چیری ستا به دکوهی په غاړه لار شی

ته چي هرچاته په خوار وسترگو گوری

لاړ ومبی به ستا صورت ترخاورو خوارشی

آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی

هرچا بل آزاروی هغه آزار شی

که ته نه کوی نظر دچا وعیب ته

هرسړی به ستا د عیبو پرده دارشی

دمات لوښی آواز کله ثابت خیږی

دهرچا عمل څرگند پخپل گفتار شی

نن چي صبح ده روښانه لار صحیح کړه

ناگهانه به داصبح شب تارشی

هغه زړه به له طوفانه په امان وی
چې کشتی غوندی دخلکو بار بردارشی.

www.libtool.com.cn

مزمن فرهنگی فقر سره د وخت په تریدو مونږ په دې بریالی شو چې د لومړی ټولګی تر دوولسم ټولګی کتابونه تجدید نظر او تدوین کړو.

هدف لرونکی ښوونی او روزنی د ټولنی اقتصادی او فرهنگی پراختیا او لوړوالی یوازنی لاره ده چې دهغه پواسطه یوه ټولنه وکړای شی چې خپل انسانی شخصیت او اجتماعی موقف ونوروته وپیژنی. اوسنی تیکنالوژی انسانانوته دا قوت بخښلی ده چې دهغه په وسیله خپل ټول تخنیکی معلومات او همدارنګه حوادث په لږ وخت سره د انترنیټ او اطلاعاتی شبکی له لاری انتقال او ګړی یاد لوړ کتابخانو سره اړیکی ټینګ کړی او له هر هغو کتابونو څخه له همدی شبکی په وسیله پسیره ګټه واخلی. اوس یو ویشتم پیړی دی او د علمی ودوستنی انکشافاتو څخه باید خلکو ګټه واخستلای شی.

افغانستان نشی کولای چې د نړی والو ټولنیزونه پرته او د ښوونځیو په تړلو سره. د نوی تخنیکی وسایلو په نه استفادی سره د تمدن، فرهنګ، علوم او ننی تیکنالوژی په لیرو پاتیدو سره د ټولنیز آرامتیا او هوسائی، دهیواد آبادی او انکشاف ته ورسیږی نو باید چې ښوونی اوروزنی ته خاص پاملرنه وشی او د ښوونځیو ورونو له تعصوب نه پرته د هیواد بچیانو پر مخ خلاص شی او درسی کتابونه برابر، تجربه لرونکی استاذان ورذول شی، او همدارنګه بچیانو د شپاڅه کارونو او جګړو د ګرونو څخه خلاص او ښوونی او روزنی خواته وبلل شی.

له دی هدف سره همتا د لږو امکاناتو، محدود مسلکی کادرونو او متخصصیونو په درلودلو سره د یو هدف لرونکی ښوونی او روزنی د تعلیمی نصاب په تدوین لاس پوری کړ، که څه هم دا تعلیمی نصاب د تیرو تعلیمی نصابونو په شان د نیمګړتیاؤ څخه تښ نه دی، نو دغه کار د دتخنیکی او فنی کادرونو پرمختګ او جرأت بخشلو زمینه برابروی چی دهغه په وسیله هغوی راتلونکو نسلونو ته خدمت وکړی.

مضامینو سره قرار لری، په مقابل کښی د عربی دینیات او قرانکریم مضامین د شاګرد د صحیح او ښه دزک د دینی پوهی دپاره تدوین شوی دی. نه د دی دپاره چی هر یوی په خپله یوازی مضمون وی.

علمی سیر، ورزش "بدنی روزنه" رسم او حرفه چې د مخه تر دې یوازی ساعت ئې ځانته اختصاص وزکول او هغه فقط د استاذ د خوشی او سلیقی تابع ؤ. د مضامین د ټاکل شوی محتوا سره د درسی ساعت کتاب او دستور العمل ئې تدوین شوی دی.

www.libtool.com.cn

د زده کوونکو نظریاتو او دمغزوی اهمیت په تعلیم کی له اوومر ټولګی څخه تر دوولسمر ټولګی پوری څو ساعت په نظر کی نیول شوی دی ترڅو خپل نظرئې څرګند او په تعلیمی نظام کښی برخه واخلی.

برسیره پردی اوسنی تعلیمی نصاب کتابونو دلاندی مشخصاتو په لرلو سره جوړه شوی ده. اوسنی تعلیمی نصاب په کلیوالی بنسټ تدوین شوی ده چې په دی توګه کولای شی کلیوالی او ښاری زده کوونکو په څلورمر او یا پنځمر ټولګیو کې برابر سویه ته ورسوی. هر کتاب خاص هدف د ټول تعلیمی نصاب د هدفونه څخه لری او دهغه دز سونه لاندنی مشخصات لری:

١. په سیستماتیک ډول له ساده نه مغلق لوری ته. له معلوم نه مجهول ته. له تصوراتو څخه مفهوم ته د زده کوونکو دعملی او علمی توانمندی په اساس.

٢. د چاپیریال دواقعیتونو سره سمر اویا په بل عبارت دچاپیریال سره سمر چې د ښوونی قابلیت ولری.

٣. دزده کونکو د دماغی انکشاف وسیله وی نه چې شاګردانو د دماغ نه د معلوماتو ذخیره جوړ شی.

٤. د ټاکلی صلاحیتونو انتقال وزکوونکی وی.

٥. عملی وی نه مجرد او یا انتزاعی.

۶. د انکار نه منوونکی حقایقو په اساس نه چې د زده کوونکو لپاره د بې اعتمادی روحیه پیدا کړی.
۷. د زده کړی د چاپیریال ارتباطی پل وی له تولنیز چاپیریال سره.

همدغه کتابونه دلانـدی مشـخصاتو پـه نظـر کـې نیولوسـره د متخصیصنو تر غور لاندی نیولی شوی ده.

۱. د کتابونو او سبقونو ارزیابی د ښوونی او روزنی د اهدافو پـه اساس او دهغوی سیستماتیکوالی.
۲. د چاپی او علمی غلطـی اصلاح. دموضوعـاتو د پوهیدلـو توانائی. داصطلاحـاتو یوالـی. دمثالونو تطبیـق لـه متـن سـره او د مطلبونـو دفورمول بندی درستوالی.

www.libtool.com.cn

د هدف لرونکی تعلیم، او تربیی حاصلول په دری اساسی اصول لکه کتاب، ښوونکی او درسی چاپیریال پوری ارتبـاط لـری د دې موضوع پـه نظر نیولو سره هر خومره چې د کتاب ښه والـی زیات شـی ضرورت ده چی صلاحیت لرونکی ښوونکی هم تربیه شی او د زده کړی چاپیریال له دی سره سم منځ ته راشـی. برسیره پـردی د ټولو لپاره د ښوونی او روزنی زمینه بی له تعصبو څخه برابر او په نظر کښـی ونیـول شـی. لازم دی یادونه وکړو چې دغه کتابونو د ښه کیدولـو گنجـایش او ظرفیـت لری او دښوونی او روزنی له گرانو متخصیصونو اوملگرو څخه هیلـه لـرو چی خپل لارښوونی د دغی کتـابونو د کیفیـت او ښـه والـی لپاره ونـه سپموی. چې دغه لارښوونی د راتلونکی نسل حق دی.
دهمتا تعلیمی نصاب کتابونو د لنډ زمانی او د ډله ایز کـار محصـول دی د مضمونونو د برابرولو اشخاص نومونو په لومړنی چـاپ کـې نـه دی ذکر شوی او دهغوی جلاکیدل اوس گران ښکاری. څکه لـه محتـرم ډاکتر یوسفی. انجنیر حیدری. انجنیر امینـی. انجنیر نـاصری. پوهندوی

یوسفی، استاد حکمت، انجنیر کارپار، استاد انګار، ښاغلی ربانی، ښاغلی حصارنائی، ښاغلی محمد کبیر سلطانی، صلاح الدین سلطانی، ذبیح الله سلطانی، محترمه نسرین سلطانی، محترمه ملیحه ګلستانی، نعمت الله سعیدی زاده. او غلام علی چې د کتابونو په کمپوز او تایپ او برابرولو فعال برخه اخستیتی دی تشکر او مننه کوم له لوی خدای ج څخه دهغوی بریالیتوب در راتلونکی نسلونو لپاره غواړم. پر ځای دی چې له ښاغلی جلال الدین اوحدی څخه د تاریخی منابعو او مدارکو د ټولولو دهمکاری څخه په خاص ډول شکریه او قدردانی وکړم.

www.libtool.com.cn

په آخر کې له هغو دوستانو څخه چې زمونږ سره ئی د کتاب د تدوین په لاره کښی ګټوره لارښوونه او مرسته کړی دی شکریه وکړم. د هغوی بریالی توب دخدای ج څخه غواړم هیله مند یم چې ودوسته له دی هم مونږ له خپل لارښوونی څخه بی برخه ونکړی.

مالی امکاناتو لږ والی ودی ته مانع کیږی چې ددغه کتاب سلسله و علاقمندانو په اختیار کښی شودل شی. ددغی نقیصی د برطرف کولو لپاره زیار ګالل کیږی. امید دی د بل وار دپاره وکولای شو په ډیر شمیر سره د دغو کتابونو سلسلی چاپ کړو.

په ډیر درناوی او قدردانی
انجنیر عبداللهی
دهمتا ډایریکتر

## مقدمه:

یو څرګند حقیقت دادی چې د ښوونی او روزنی مقصد او غوښتنه باید وټاکل او انتخاب شی. دښوونی اوروزنی مقصدونه د ټولنی دخلکو د موجوده حالت د څرنګوالـی څخـه منـدل کیږی. لکه څنګه چې اساسی مقصد دهر هغی ټولنی اړتیاوی تشکیلوی اوباید په نظر کې ونیول شي.

www.libtool.com.cn

څرنګه چې پښتو ژبه د افغانستان ملی او رسمی ژبه ده نـو لازمه ده چې ټول هغه خلک چې په افغانســتان کښـی ژونـد کوی باید په پښتو ژبه وپوهیږی وکولای شي چې د پښتو په ژبی سره وژغیږی پوه شی او وئې پوهولای شي ددې هدف سره سم د همتا د ښوونی او روزنی د تعلیمی نصاب سره سم پښتو ژبـه دیو ضرورت پـه حیـث تدریـس ئـې د څلـورم ټولـګی څخـه شروع کیږی او دهغه تعلیمی نصاب داســی پـه نظـر کـې نیـول شویدی چې دهغه فارغان نه یوازی وکولای شي چــې د پښـتو ژبی سر پوه او وپوهوولای شي بلکه د پښتو ژبی د لرغونــی ادب او کلتور سره په پوره ډول آشنائی وموندلای شی. دنهم ټولـګی د پښتو په کتاب کښی د پښتو ګرامر، د پښتو نـامتو شـاعرانو او د دوی د شـعر نمونې، ادبـي مضمونونو او دافغانسـتان نـامتو پوهان او عالمان معرفی شوی دی.

همتا د لږ امکاناتو په درلودلو سره ددې کتاب د درسي وجې نه سربيره يوه لنډۍ لارښوونه هم تدوين کړېدی خو هغه محترم ښوونکی چې د پښتو ژبې تدريس په غاړې لري دهغه نه ګټه واخستلای شي.

د پښتو کتابونه لکه نور کتابونه دسهوی او کمبوداتو څخه تش نه دي له همدې سببه مونږ د پوهانو او متخصيصونو او د زده کونکو اولياو څخه هيله لرو چې مونږ ته دانيمګړتياوې په ګوته کړي او په دې لاره کې زمونږ سره دی نيمګړتيا وو په پوره کوولوکې مرسته او خپل لارښوونه ونه سپموی خو ددې کتاب په نوی چاپ کې وکولای شو د هغوی لارښوونی په نظر کې ونيسو.

په درناوی

د ژبې څانګه

د همتا د تعليمی نصاب د تدوين کميټه

www.libtool.com.cn

د روح او جسم د خستن تعالی په نامه

دتولنیزو دپرمختیا مرستندویان -"همتا"

دتولنیزو دویښتیا دپرمختک پروگرام

www.libtool.com.cn

د پوهنی او روزنی خانکه

# پښتو

د نهم ټولګی

تهیه او تدوین: د تعلیمی نصاب کمیته

بسم الله الرحمن الرحیم

دتولنیزو دپرمختیا مرستندویان "همتا"
دتولنیزو دویستیادپرمختګ پروګرام
دپوهنی او روزنی څانګه

www.libtool.com.cn

# پښتو

د نهم ټولګی
لپاره

PROPERTY ACKU

تهیه او تدوین: د تعلیمی نصاب کمیته

www.libtool.com.cn

دکتاب پېژندنه:

نوم: پښتو

ټولګی: نهم

تهیه او تدوین: دهمتا دتعلیمی نصاب کمیته

کمپوز: دکاتب نشراتی خدمات.
دټولنیزو دوپښتیا دپرمختګ پروګرام- همتا

لومړی چاپ: ۱۳۷٤

دوهم چاپ: ۱۳۷۸

دکتاب حقوق: د دې اثر ټول حقوق د همتا دپاره محفوظ دی.

د چاپ شمیر: ۱،۰۰۰ توګه.

## د نهم تولگی دپښتو کتاب د لوستونو فهرست


| # | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ١. | دمطالبو فهرست | ا |
| ٢. | سریزه | ج |
| ٣. | مقدمه | ط |
| ٤. | حمد | ١ |
| ٥. | نعت | ٢ |
| ٦. | رحمن بابا | ٣ |
| ٧. | د رحمان بابا دکلام نمونه | ٦ |
| ٨. | خپل عمل دلاری مل | ٨ |
| ٩. | غزل | ١٠ |
| ١٠. | بخیل او فقیر | ١١ |
| ١١. | رباعی | ١٢ |
| ١٢. | ضمیرونه | ١٣ |
| ١٣. | زرغونه انا | ١٦ |
| ١٤. | خلوریځی | ١٩ |
| ١٥. | دلیکوالی لارښوونی | ٢٢ |
| ١٦. | پند او نصیحت | ٢٥ |
| ١٧. | پوهنه | ٢٦ |
| ١٨. | حکایت | ٢٩ |
| ١٦. | کتاب خرخوونکی | ٣٢ |
| ١٧. | دوه ملگری | ٣٣ |
| ١٨. | اشاری ضمیرونه | ٣٤ |
| ١٩. | لویوالی | ٣٦ |
| ٢٠. | لطیفه | ٣٨ |


www.libtool.com.cn

| # | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ٢١. | حمید مومند | ٤٠ |
| ٢٢. | زده کړه! | ٤٤ |
| ٢٣. | دشاعر مدح | ٤٥ |
| ٢٤. | میرزا خان انصاری | ٤٦ |
| ٢٥. | مثنوی | ٥٠ |
| ٢٦. | بیت نیکه | ٥٢ |

| # | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ٢٧. | دپښتو ترجمی | ٥٤ |
| ٢٨. | ښه میرمن | ٦١ |
| ٢٩. | دځان ویر | ٦٢ |
| ٣٠. | ټوکه | ٦٤ |
| ٣١. | مناجات | ٦٧ |
| ٣٢. | متلونه | ٦٨ |


www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

په هغه ورځو کې چې دافغانستان څخه د روسي پوځونو دموجودیت د ختمیدو اتکل کیدل، مونږ په دې باور و چې د هیواد ژغورنه د جګړې او ویجاړتیا او بیرحمانه وژل او دفرهنګ له منځ وړل یوازینې لاره دخلکو پوهوالی او جهل او بیسوادی محو کول په ټولنه کښې دي. او په ټول قدرت سره په دغه لاره باید اقدام وشي.

اوس د یوولسو کالو په تیریدو څخه ز مونږ دا باور لا ټینګ شوی دی. له همدی عقیدی په درلودلو سره په هغه وخت کښې "ګروپ امداد خراسان" مو تاسیس او پس له شپږو کالو تجربې څخه ورسته "همکاران ترقی اجتماعی- همتا" ته مو ارتقا ورکړه.

مونږ د قره باغ په ولسوالی د تمکی په کلی کښې د توحید او سنی ښوونځی په ۱۹۹۰ کال کښې د افغانستان د تعلیمی مرکز د کتابونو په استفادی سره شروع کړ، وروسته د ښوونی او روزنی متخصصینو او یو شمیر پوهانو په همکاری سره هغه مو په نوی کتابونو بدل کړ چې د تجدید نظر څخه وروسته د یو هدف لرونکی ښوونی او روزنی لپاره دغه کتابونو چاپ او علاقه لرونکو ته وړاندی شول.

په لومړی ځل کښې مونږ په دی باور نه و چې د محدودو امکاناتو سره مونږ وکړای شو چې د لومړی ټولګی څخه تر دوولسم ټولګی پوری تعلیمی نصاب تدوین، کتابونه چاپ او ټولینی ته وړاندی کړو. نو د هدف لرونکی تعلیمی نصاب او تدریسی کتابونو په نه درلودلو سره او د

www.libtool.com.cn